# د PGW د پیرودونکو د مرستې پروګرام

**PGW د ټیټ عاید لرونکو پیرودونکو له پاره بېلابېل پروګرامونه او فرصتونه چمتو کوي تر څو د ګاز بېل د هغوی له پاره د ادایني وړ شي.**

## د پیرودونکو د مسوولیت پروګرام (Customer Responsibility Program, CRP)

- د امکان تر حده د تادیې ارزان بیعه پلان وړاندې کوي
- د پیرودونکي د عاید یا د بېل د سلنې پر اساس د ګاز تخفیف لرونکی بېل وړاندې کوي
- د تېرو پاتې تادیو بخښل وړاندې کوي
- پیرودونکي کولای شي خپله غوښتنه په آنلاین ډول د www.pgworks.com/CRP له لارې، په حضوري ډول یا د برېښنالیک له لارې د PGW د پیرودونکو د خدمتونو مرکز ته وړاندې کړي.
- د غوښتنې د سپارلو پر مهال باید د خپل عاید د تثبیت اسناد، د ټولنیز خوندیتوب شمېرې او د کورنۍ د ټولو غړو د زېږون نېټه چمتو کړي.

### د کور آسانتیا(Home Comfort)

- د انرژۍ د ساتنې وړیا خدمات چمتو کوي لکه د اوبو مخه ډپ کول او عایق کارې، ترڅو له ټیټ عاید لرونکو پیرودونکو سره مرسته وکړي چې خپل د انرژۍ مصرف راکم کړي
- پیرودونکي د درملنې د لګښت د احتمالي مؤثریت په اساس چې ورته چمتو شوی ټاکل کېږي.

## د پیرودونکو د مرستې او مراجعې د ارزونې خدمتونه (Customer Assistance and Referral Evaluation Services, CARES)

- د ټیټ عاید لرونکو پیرودونکو یا هغو کسانو لپاره د مراجعې او معلوماتو خدمتونه وړاندې کوي چې له شخصي یا مالي ستونزو سره مخ وي او د بېل د ادایني او د ښاري خدمتونو ته دوام ورکونې په برخه کې د هغوی پر وړتیاویو اغېزه کوي.

د مرستندویه پروګرامونو بل اړخ وګورئ چې د ښاري خدماتو د بېل په ادا کولو، د خدمتونو د لغوه کولو په مخنیوي او د هغوی په بیا پیلولو کې مرسته کوي.

# ستاسو PGW بېل د ادا کولو لپاره مرستې

## د ټيټ عايد د کور د انرژۍ د مرستې پروګرام (Low Income Home Energy Assistance Program, LIHEAP)

- د ژمي د تودوخې د بېل ادا کولو لپاره مرسته
- حد اکثر مرسته $1,000 ده.
- د عايد لپاره په شرايطو برابرېدل هر کال نوي کېږي، مګر مرستې معمولاً د هغو کورنيو لپاره محدودې دي چې د فدرال د غربت د کچې 150% يا تر هغې کم عايد لري.
- پيرودونکي کولای شي د تودوخې په هره دوره کې يوازې يوه LIHEAP مرسته ترلاسه کړي.
- پيرودونکي کولای شي د PGW د پيرودونکو د خدمتونو په مرکز کې د برېښناليک له لارې يا په حضوري ډول نوم ليکنه وکړي.

## کړکېچونه

- د خدماتو د بيا پيلېدو يا بندېدو د مخنيوي مرسته
- د کړکېچ مرسته د LIHEAP له مرستې څخه جلا ترلاسه کېږي.
- حد اقل مرسته $25 او حد اکثر مرسته $800 ده.
- د عايد لپاره په شرايطو پوره کېدل هر کال نوي کېږي، مګر مرستې معلمولاً د هغو کورنيو لپاره محدودې دي چې د فدرال د غربت د کچې 150% يا تر دې کم عايد ولري.
- پيرودونکي کولای شي د تودوخې په موده کې د کړکېچ بېلابېلې مرستې ترلاسه کړي، مګر د ټولو مرستو مجموعي کچه د مرستې له اکثر حد څخه نشي ډېرېدای.

## د ښاري خدماتو د بېړني خدمت مرسته (Utility Emergency Services Fund, UESF)

- د خدماتو د بيا پيلېدو يا بندېدو د مخنيوي مرسته
- د LIHEAP او کړکېچ د مرستو د نه شتون يا مصرفېدو په صورت کې موجوده ده.
- PGW مرستې په 50/50 ډول تر $750 پورې په پام کې نيسي، د دواړو مجموعه بايد له $1,500 څخه ډېره نشي.
- ټوله کچه بايد د پور کچه $0 ته را ټيټه کړي.
- د عايد لپاره په شرايطو پوره کېدل هر کال نوي کېږي، مګر مرستې معمولاً د هغو کورنيو لپاره محدودې دي چې د فدرال د غربت د کچې 175% يا تر هغې کم عايد ولري.
- د UESF په هکله د ډېرو معلوماتو لپاره 5170-972 (215) شمېرې ته زنګ ووهئ.

**د موجودو مرستو په اړه د تازه معلوماتو لپاره موږ ته په آنلاين ډول د www.pgworks.com له لارې مراجعه وکړئ يا د 215-235-1000 له لارې زنګ را ته ووهئ.**